سُبْحَانَ الله، مؤمن نه ناپاکه کېږي

له ابو هريره - رضي الله عنه - څخه روايت دی چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم ورسره د مدينې په يوه لار کې پداسې حال کې مخ شو چې دی د جنابت په حال کې و، نو پناه شو او ولاړ، غسل يې وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم ولټاوه، نو کله چې ورته راغی ويې ويل: «ابوهريره چېرته وې؟» هغه وويل: اې د الله رسوله، ته راسره پداسې حال کې مخ شوې چې زه په جنابت کې وم، نو زړه مې ونه غوښتل درسره کښېنم تر څو مې نه وي لامبلي، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «سُبْحَانَ الله، مؤمن نه ناپاکه کېږي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم د مدينې په يوه لاره کې له ابو هريره رضی الله عنه سره مخ شو، حال دا چې ابو هريره رضی الله عنه د جنابت په حال کې و، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې د احترام په خاطر له هغه پټه ولاړ او غسل يې وکړ،سره د جنابت په حال کې ناسته او خبرې کول ناسم وګڼل، پدې ګمان چې ناپاکه دی، نو په بيا ښېرته راغی او کښېناست، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم ترې وپوښتل چې چېرته تللی وې؟ نو خبر يې کړ چې نه يې غوښتل د جنابت له امله د ناپاک په حال کې ورسره کښېني، نو رسول الله صلی الله عليه وسلم تعجب وکړو او ورته يې وفرمايل: مؤمن پاک وي او هېڅکله نه ناپاکه کېږي؛ هغه که مړ وي او يا ژوندی.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3076